مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۲/۰۲

غزل

ځان به لمبه کړم که پښتون شي بیدار
د بیلو ورونو پیوستون شي بیدار

د وینو کرښې به له تنه توی کړم
که پښتونخوا کښې بیا ژوندون شي بیدار

زه هم انسان یم، حق د ژوند غواړمه
فریاد، فریاد یم، چې سکون شي بیدار

د بیلتون کرښې نورې نه شم زغمئ
لیکمه، لیکم څو بدلون شي بیدار

د پسرلي نخښې نظر ته راځي
تیارې به ځي که سباوون شي بیدار

مصطفی پسرلی
29/01/2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ